Women's Peace & Humanitarian Fund

A United Nations & Civil Society Partnership

# د اداراتي فنډنګ لپاره د اشارو د لارښووني پاڼي

## د WPHF امپکټ ايريا 1: د ښځو د امن او خونديتوب لپاره چاپېريال برابرول

دغه لانديني ټيپ شيپ يعنې د لارښوونې پاڼه د WPHF ګرانټيز يعني کومک اخيستونکو ته لارښوونه کوي چي د لازمو اشارو پر بنسټ اداراتي فنډ ترلاسه کوي چي د WPHF امپکټ ايريا 1 کښېږ به يې لګوي: يعني د WPS لپاره چاپېريال برابرول. دا نورې وړانديز شوي اشارې هم ورکوي او د اشارو، بنسټ کرښو، او موخو، او د تصديق ذرايعو په هکله هم ځينه عمومي معلومات ورکوي.

### ريزلټس فريمورک يعني د نتايجو چوکاټ

امپکټ سټېټمنټ يعني د اغېز بيان: ***د مدني ټولنې هغو سازمانو پراخ رول چي د WPS د هوډونو په هکله د احستاب يقيني کولو لپاره هلې ځلې کوي.***

تاسي بايد دغه بيان د اغېز پر کچې وکاروئ او له ليسټ څخه لازمي اشارې غوره کړئ ( په راتلونکې برخې کښې يې تعريفونه وګورئ).
تاسي بايد خپل اوټ کم سټېټمنټس او اوټ پوټ بيان (بيانونه) هم تيار کړئ څرنګه چي په پروژو پورې اړوند وي.

| متوقع پايلې | اشارې | د تصديق درايع/سرچيني | کړنې | بوديجه |
|---|---|---|---|---|
| **امپکټ يعني اغېزه:** د مدني ټولنې هغو سازمانونو لره پراخ رول چي د WPS د هوډونو په هکله د احستاب يقيني کولو لپاره هلې ځلې کوي[1]. | کم تر کمه دوه (2) پکښې غوره کړئ :<br>1.1 د مياشتو اوسط شمېر چي سازمان د اداراتي فنډنګ له برکته پکښې پايښت کولاى شي<br>1.2 د عملي شمېر/فيصدي چي د اداراتي فنډ له برکته پايښت کولاى شي<br>1.3 د هغو اوښتونکو سټراټيجيز يعني کړنلارو، اوزارونو يا سيستمونو شمېر/ډولونه چي سازمان د کارونو د دوام لپاره خپل کړي دي.<br>*1.4* د سازمان لپاره د رسک منيجمنټ يعني د خطر سمبالښت او بېړني پلانونه يا کړنلارې جوړول | د سند بياکتنه، مشاهده، يا مرکې<br>د سند بياکتنه، مشاهده<br>د پلانونو د سند بيا کتنه | | |
| **پايلې[3]** د خپلې پروژې پر بنسټ د اوټ کمز سټيټمنټ (سټيټمنټس) تيار کړئ | د اوټ کم پر کچه د رسيدګۍ اشارې شاملې کړئ:<br>R1. د هغو خلکو شمېر چي نيغه په نيغه له غبرګون څخه برخه من کېږي (دجنس، عمر، يا نورو متغيراتو له حسابه[2])<br>**او** 1- 2 اضافي اشارې تيارې کړئ د هر هغه اوټ کم لپاره چي ستاسي د پروژې بدلون پکښې ځايېږي | د سند بياکتنه/ د ګډونوالو ليستونه<br>د ګرانټي يعني کومک ترلاسه کوونکې لخوا به جوت کړ شي | | |

[1] دا **امپکټ** هغه اوږدمهال بدلون دى د پروژې چي د ترلاسه کېدونکي اوټ کم په نتيجې کښې متوقع وي. د هر اداراتي فنډنګ لپاره، بدلون په سازماني کچه وي. خو دا مانا نه لري چي بدلون به پر ملې کچې راځي.
[2] په نورو متغيراتو (يا **جلا جلا وېش** ) کښې کېډلاى شي معلوليت، IDPs يا کډوال، هغه کورنۍ چي مشره يې يوه مېرمنه وي، وغيره، شاملېدلاى شي، که اړتيا وي.
[3] **اوټ کمز** د منځني مهال هغه بدلونونه دي چي د بشپړ شيو اوټ پوټس په نتېجې کښې توقع کېږي. تاسي يو يا ګڼ اوټ کم درلودلاى شئ. زيات تر زياته 2 اوټکمز ښه قاعده ده. د اوټکم سټېټمنټ يوه بېلګه دا ده *"د جګړې د مخنيوي په ميکانيزم کښې د ځايي دخيلو خواوو پراخه همکارې"*.

| متوقع پایلي | اشارې | د تصدیق درایع/سرچینې | کړنې | بودیجه |
|---|---|---|---|---|
| **اوټ پوټس**[4] د هر یوه اوټ کم لپاره د اوټ پوټس یوه مجموعه تیاره کړئ | هر اوټ پوټ لره 1- 2 اشارې تیارې کړئ | د تصدیق ذرایع او د هرې اشارې لپاره سرچینه جوته کړئ | هر اوټ پوټ لره، د کړنو لیستونه تیار کړئ | د هر اوټ پوټ د بودیجې مقداد پکښې واچوئ |

## لازمي اشارې

تاسي د WPHF د ګرانټیز په توګه باید د معیاري اشارو یوه مجموعه وکاروئ (وګورئ جدول 1) چي ستاسي د پروژو د اغېز او رسیدګي په هکله جهاني راپور او ستاینه ته اسانه شي.

نو ځکه تاسي باید غوره کړئ:

- **کم ترکمه دوه** د امپیکټ لیول د اغېزکچې اشارې؛ او
- **د مستقیم برخه من** اشاره

تاسي نورې اشارې ورزیاتولای سئ، څرنګه چي په پروژې پورې اروندې وي. ښه دود دا ده چي کم ترکمه درې (3) پر یوه اوټکم او پر یوه اوټ پوټ سټېټمنټ باندې وي.

## جدول 1: د اشارې تعریفون (لازمي اشارې)

| لازمي اشارې | تعریفونه |
|---|---|
| | |
| **د اغېز اشاره 1.1**<br>د میاشتو اوسط شمېر چي سازمان د اداراتي فنډنګ په نتیجې کښې پاینښت کولای شي | دا یوه د څومره والي اشاره ده چي د هغو میاشتو، اوسط، شمېر ټاکي چي ستاسي سازمان د WPHF لخوا ورکړ شوي فنډ له برکته دوام او پاینښت کولای شي. په دې کښې د پروژې تر مودې ورهاخوا میاشتې هم شاملېدلای شي.<br>شمېرنه باید د هغو میاشتو د شمار پر بنسټ وي چي ستاسي سازمان **i)** د عملې همدغه تعداد ساتلای شي، **ii)** عملې ته معاشونه ورکولای سئ؛ یا **iii)** کرایه، برېښنا، انټرنېټ، او نور لګښتونه ورکولای سي. |
| **اغېز اشاره 1.2**<br>د اداراتي فنډ په نتیجې کښې د عملې شمېر/فیصدي چي ساتلای يې سئ | دغه یوه د څومره والي اشاره ده او دا شمارې چي د WPHF لخوا ورکړ شوي فنډ په نتیجې کښې ستاسي سازمان څومره عملې خپل ځای/معاش ساتلی دی. د عملې شمېر او فیصدي دواړه باید راپور کړل شي. د فیصدي د شمارلو لپاره، د پاته عملې ټوله شمېر د سازمان پر ټولې عملې تقسیم کړئ. |
| **اغېز اشاره 1.3**<br>د هغو اوښتونکو کړنلارو، اوزارونو یا سیسټمونو شمېر/بڼې چي سازمان د کارونو د دوام لپاره خپل کړي وي | دغه اشاره هم د شمار ده او د بیان ده. دا ستاسي د سازمان د نویو کړنلارو،اوزارونو، یا ټېکنالوجیانو شمېر او بڼې (بیان) کوي چي ستاسي د هغه کار په دوام کښې مرسته وکړي چي د WPS له اجندا او/یا په جنډر پورې اروند بشري غبرګون سره تړاو لري. په دې کښې د ای ټي زېربنا، سوفټ وېر، کمپیوټر سیسټمونه، او د کار نوي لارې چارې (لکه د موبایل ټېکنالوجیاني یا له لېرې څخه کارکول، وغیر) راتلای شي. په دې کښې هغه نوي طریقې یا کړنلارې هم راتلای شي چي د سرچینو د خوندي کړنلارې، د بشري ځواک کړنلارې، د پاینښت پلانونه یا کومه بله کړنلاره چي ستاسي له سازمان سره په نازک چاپېریال کښې دکارونو د دوام په تړاو به مرسته کوي. |
| **اغېز اشاره 1.4**<br>د سازمان لپاره د رسک منیجمنټ یعني د خطر سمبالښت او بېړني پلانونه یا کړنلارې تیارول | دا یوه د څرنګوالي اشاره ده چي دا تشریح کوي چي ایا تاسي د رسک منیجمنټ کړنلاره، بېړني پلانونه، بشري یا بېړني کړنلاره، وبا ته د غبرګون پلانونه، یا کوم بل پلان یا کړنلاره تیاره کړې ده چي ستاسي سازمان ته به دا ورتیا او پیاوړتیا ورکوي چي د کړکېچ او جګړې په حالاتو کښې د امن او ښځو د مرستي لپاره خپل کار او هوډ ته ادامه ورکړای شي. |
| **او په اوټ کم لیول یعني د پایلې په کچه د رسیدګي اشاره وکاروئ** | |
| **د رسیدو اشاره 1:**<br>د هغو خلکو اشاره چي له غبرګون څخه برخه من کېږي (د جنس او عمرګروپ او نورو متغیراتو له حسابه) | په مستقیمه توګه برخه من کېدونکي هغه کسانو، ګروپونو، یا سازمانونو ته وایې چي ستاسي له هڅو څخه نېغ په نېغه ګټه اخلي، یا هغه چي ستاسي له کارونو څخه نېغ یوځه په لاس ورځي او چي د ریزلټس فریمورک په اوټ پوټ او اوټکم سټېټمنټس کښې یې څرګند بیان شوی وي. مستقیم برخه من او ټارګېټ ګروپ دواړه یو وي.<br>د اداراتي فنډنګ لپاره، مسقیم برخه مند کېدونکي ستاسي د سازمان هغه کارمندان، داوطلبان یا غړي دي چي د اداراتي فنډنګ له لارې روزنه اخلي. |

[4] یو **اوټ پوټ** هغه ورکول کېدونکي تولید یا خدمت وي چي د تطبیقي کارونو په نتیجې کښې په ښکاره بڼه موجود وي. د اوټ پوټ سټېټمنټ بېلګه ده: *"د سازمان لخوا ورانديې سویو بېړنیو پلانونو په هکله له عملې سره د اګاهۍ ناستې".*

| لازمي اشارې | تعريفونه |
|---|---|
| | مستقيم برخه من پکار ده چې د جنس او عمر (تر **18** کلنۍ لاندي او تر **18** کلنۍ پاس) له حسابه ووېشل شي. نور وېش هم کېدلای شي (لکه، معلوليت، IPDs، کډوالان يا د کوربني ټولنې وګړي، هغه کورنۍ چې مشره يې يوه مېرمنه وي، سټيک هولډرز، وغيره)، که اړتيا وي. |

## نور وړانديز شوي اوټکم انډيکېټرز يعني اشارې

دغه لاندېني اوټکم انډيکېټرز يعني اشارې فقط هغه وړانديزونه دي چې تاسي ته د خپلو اوټکم لېول لپاره د اشارو د تشريح کولو په هکله لارښوونه کوي. دا لازمي نه دي.

| وړانديز شوي اوټکم انډيکېټرز يا اشارې | تعريفونه |
|---|---|
| د هغې عملي يا داوطلبانو شمېر/فيصدي چې نوي پوهه او سازماني اوښتونکي اوزارونه او کړنلارې يې زده کړې وي. | دا يوه د ځومره والي اشاره ده او ستاسي د سازمان د هغو کارمندانو يا داوطلبانو ټول شمېر ګڼي چې نوي پوهه او سازماني اوښتونکي اوزارونه او کړنلارې يې زده کړې وي.<br>دا د روزنې، ورزده کونک، يا څارنې يا کاري ناستو له لارې ترلاسه کېږي چې تاسي يې په خپل سازمان کښې ترسره کوئ.<br>دغه اشاره د جنس او عمر (تر **18** کلنۍ لاندي او تر **18** کلنۍ پاس) له حسابه ووېشئ. |
| د نويو سرچينو د خوندېت د کړنلارو په نتجه کښې د هغه فنډ مقدار چې په حرکت کښې راوستل شوی وي | دا يوه شمېرنده اشاره ده او دا څرګندوي چې په خپل سازمن کښې د سرچينو د خوندېت په کړنلارو کښې بهتري راوستلو له برکته تاسي څومره اضافي فنډ ترلاسه کړی دی. دا کېدلای شي چې په خاې کرنسۍ يا امريکايي ډالر کښې وي. |
| د عملي يا دواطلبانو شمېر چې د خلکو لپاره کار په هکله يې نوي کاري لارې خپلي کړې وي. | دا يوه د ځومره والي اشاره ده او ستاسي د سازمان د هغو کارمندانو يا داوطلبانو ټول شمېر ګڼي چې نوي پوهه او سازماني اوښتونکي اوزارونه او کړنلارې يې زده کړې وي.<br>دا د روزنې، ورزده کونک، يا څارنې يا کاري ناستو له لارې ترلاسه کېږي چې تاسي يې په خپل سازمان کښې ترسره کوئ.<br>دغه اشاره د جنس او عمر (تر **18** کلنۍ لاندي او تر **18** کلنۍ پاس) له حسابه ووېشئ. |

## اشارې څه شی دي؟

د اشارو تعريف داسي کېږي *'د ځومره والي يا څرنګوالي عوامل يا متغيرات چې لاسته راوړنه په ساده او باوري توګه مېچي، چې له يوې لاسته راوړنې سره تړلي بدلونونه جوتوي، يا دا چې د يوه پراختيا راوستونکي عامل د کارونو په ارزولو کښې مرسته کوي'*.[5]

که ساده يې ووايو، نو اشارې هغه **'علامې'** دي چې د اوټ پوټ پرمختګ راښکاره کوي، او هغه بدلونونه راته جوتوي چې د متوقع اوټ کمز يعني پايلو له لارې شوي وي.

د اشارو درې ډولونه دي:

- **اوټ پوټ انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې د يوه اوټ پوټ (توليد يا وړاندي کړل سوی خدمت) د بشپړتيا لټون کوي.
- **اوټ کم يا پرفارمنس انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې د لنډمهال بدلونونه مېچي، کوم چې د اوټ پوټس د بشپړتيا په نتېجې کښې کېږي.
- **امپېکټ انډيکېټر يعني اشاره:** دا هغه اشارې دي چې اوږد مهال بدلونونه مېچي، کوم چې د اوټ کمز يعني پايلو په بنه کېږي.

يوه اشاره په لانديڼۍ توګه رامنځته کېږي:

**د مېچې يونټ + هغه څه چې مېچل/لټول کېږي (د شنني کچ + (اړوند جلاجلا وېش)**

## بېلګې:

- شمېر د + عملې يا دوطلبانو چې د کړنلارو، اوزارونو او سيسټمونو نوې پوهه لري کوم چې د سازمان لخوا د کارونو د پايښت په موخه خپل شوي وي + (د جنس له مخې يې جلاجلا وېش وکړئ)

- شمېر د + عملي یا داوطلبانو چي د سازمان لپاره د نویو بېړنیو پلانونو روزنه ورکول سوې وي + (د جنس له مخې پې جلاجلا وېش وکړئ)

## د بنسټ کرښي نرخونه او موخي

هرې اشارې لره یو بنسټیز نرخ او موخه پکار ده.

یو د **بنسټ کرښي** نرخ هغه معلومات دي چي د یوې پروژې په پیل کښي راټول کړ شوي وي چي د اشارې د سر ټکی راښيي. د پایلي او اغېز د اشارو لپاره بنسټ کرښه ړومبی وار وي چي د معلومات راټولول کېږي. په ځینو صورتونو کښي، چي پر اشارې باندي اړه لري، دا کله کله صفر (0) هم کېدلای شي.

***د بېلګي په توګه، د دغي اشارې لپاره، " د عملي یا دوطلبانو شمېر چي د کړنلارو، اوزارونو او سیستمونو نوې پوهه لري کوم چي د سازمان لخوا د کارونو د پایښت په موخه خپل شوي وي"، ستاسي د پروژې په پیل کښي کېدلای شي چي د عملې هیڅ یوه کارمند د دغو اوزارو/کړنلارو پوهه نه لرله. مانا دا چي ستاسي بنسټ کرښه به 0 وي.***

اوټ پوټ انډېکټرز یعني اشارو لره بنسټ کرښه عموماً صیفر(0) وي ځکه چي تر هغه مخکښي خو مداخلت یعني کار نه وي پیل شوی.

*د دغي اشارې لپاره، "په سازمان کښي انسټال کړ شوي د نویو انفارمېشن ټیکنالوجی (ای ټی) اوزارو شمېر"، ستاسي د پروژې په پیل کښي خو هیڅ ای ټی اوزارنه ول. مانا دا چي ستاسي بنسټ کرښه به 0 وي.*

**ټارګېټ یعني موخي** هغه دي چي کله تاسي یې د پروژې په پای کښي غواړئ. موخي باید حقیقتي او له مداخلت یعني کار سره اړخ لګوي. ټولې اشارې باید یوه موخه ولري. د همهغه یوې اشارې کارولو بېلګه داسي ده:

*د دغي اشارې لپاره، چي " د هغي عملي یا داوطلبانو شمېر چي ستاسي د سازمان لخوا د کارونو د دوام لپاره خپل کړای شویو کړنلارو، اوزارو یا سیستمونو په هکله نوې پوهه لري، ستاسي پروژه پلان لري چي د ټولو 20 کارمندانو ته یو ټرېننګ جوړ کړي. نو ستاسي ټارګېټ یا موخه به وي: 20 کارمندان.*

## د تصدیق ذرایع یا سرچیني

په ریزلټس فریمورک یا پایلو چوکاټ کښي هره اشاره د تصدیق ذرایع او یوه سرچینه غواړي.

د تصدیق ذرایع مانا 'څرنګه' (طریقه) تاسي معلومات راغونډوئ. دا د راغونډولو میتوډولوجي یعني کارتوګه ده. *بېلګې: د اسنادو بیاکتنه، مرکې، سروې، ارزونه، مشاهده یعني کسنه، له ټاکلي ډلي سره خبرې اترې، وغیره.*

یو سرچینه مانا 'له کومه' به تاسي ډېټا یعني معلومات راغونډوئ. *بېلګې: ملي سروې، اداراتي شمېرې، ټاکل شوی نفوس یا وکړي، وغیره.*